# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد   بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم   از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com   afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|

ليکونکی: یونس نگاه
ژباړه ونکی: سراج الحق قانت
۰۱ نومبر ۲۰۲۱



يونس نگاه

## آیا د کرکټ ټیم، ملي دی؟




څو ورځې کیږي چې د کرکټ په تړاو څېړنه کوم. په دې فکر کې یم چې کرکټ له سیاست او کلتور سره څه اړیکه لري؟ کرکټ د استعمار، قومیت، ملت جوړونې او د ټولنې د طبقه ایز حالت شالید ته په کتو، څه ارایه کوي؟ له نیکه مرغه، هندیان په دې برخه کې ډیرې لیکنې لري. که ژوند ؤ، په یوه مفصله لیکنه کې به د څېړنې پایله له تاسو سره شریکه کړم.

دلته غواړم په دې لیکنه کې چې ولې د کرکټ ټیم ملي دی؛ لنډه تبصره ولرم. ملي ټیمونه لکه کرکټ، فوټبال او داسې نور سپورټي ټیمونه باید ټولشموله وي. څومره چې د ټیمونو په ترکیب کې د هیواد د مختلفو سیمو څخه لوبغاړي شتون

ولري؛ په هومره کچه به د هيوادوالو د تائيد وړ وګرځي البته دا لازمي نه ده چې ملي توب د ټولشموله وي. په هر دليل سره، که چيرې ټيم له ټولو قومونو څخه منځته نه وي راغلی خو په ملي ډګر وځليږي؛ بايد ترې ملاتړ وشي او ملي ومنل شي.

د بېلګې په توګه، که چيرې د پنجشير 《قرصک》 په نړيواله کلتوري لوبه کې ونډه واخلي، آيا ددوی دغه عمل ملي دی که قومي؟ که چيرې د هزاره دمبوره په يوه فستيوال کې د افغانستان له توغ (بيرغ) سره ونډه واخلي نو ګټل او بايلل يې ټولو افغانانو پورې تړاو لري که يوازې هزاره وو پورې؟ آيا که چيرې د شمال وزلوبه د منځني آسيا په لوبو کې اتلولي خپله کړي؛ کولی شو چې دغه اتلولي يې په ملي توګه ولمانځو که نه؟ د اتل نيک پا اتلولي څنګه، آيا نوموړی د ملي استقبال مستحق ؤ که قومي؟ شخصاً اتل نيک پا مې په هيوادنی کچه د استقبال وړ ګڼه او مډال يې هم د ټولو افغانانو لپاره يو وياړ.

د ملي-ليد ظرفيت ته بايد پخپله په ځانونو کې وده ورکړو او اړينه ده چې د ړوند تعصب څخه ځان ته نجات ورکړو. ګران هيواد مو په آسانی له بې عدالتی او د تعصب له شومې پديدې څخه نه پاکيږي ولې تر ټولو ښه پيل يې له دې ځايه کيږي چې تحصيل کوونکي (محصلين)، سياسيون او سياسي رهبران مو 'ملي-ليد' تمرين کړي. که چيرې د دولتونو په سياست او د فدراسيونونو په تمويل او حماية کې د تبعيض په شتون نقد کوي، بايد په وخت او مناسب ځای کې يې مطرح کړي همدارنګه د سياسيونو د ظلم انتقام له لوبغاړو وانخلي.

ځينو کسانو ليکلي دي چې کرکټ د استعمار ميراث دی او مونږ فارسي ژبي يا خراسانيان به هيڅکله هم استعماري نښو ته سر ټيټ نکړو.

په هندوستان کې پارسي اقليتونه، لمړني قومي - مذهبي ډلي وې چې غير - انګليسي کرکټ ټيم يې منځته راوړ. پارسيان هماغه خراساني فارسي ژبه زرتشتيان وو چې پارس ته د عربو له راتګ سره، هند ته مهاجر شول او هلته يې پُر نفوذه او بې ساری اقليت منځته راوړ. غير پارسيان نږدې نيمه پيړۍ وروسته د کرکټ ميدان ته را ودانګل. کرکټ استعماري لوبه نه ده لکه څرنګه چې ريل - ګاډی او موټر، استعماري وسايل نه ګڼل کيږي. قوميت هم د کرکټ لوبې منلو پورې تړاو نه لري بلکې د کرکټ ټيم لرلو لپاره چاپيريال او نسبي جمعي ظرفيت لازم دی.

په هغه متن کې چې څو ورځې وروسته به يې له تاسو سره شريکه کړم، د کرکټ سياست او کلتور همدارنګه د هند په نيمه قاره کې يې د تاريخچې په تړاو، يو څه وليکم. د اوس لپاره همدومره بسنه کوي چې خپل د کرکټ ټيم قدر وکړو. په نړيوالو ډګرونو کې هيڅ څوک د هغوی ډي-اِن-اې نه چک کوي او د ژبې و قوم ازموينه هم نه ترې اخلي. هلته دوی د هغه کوچني هيواد پياوړي زامن دي چې هيڅ د خوشحالی خبر ترې نه راځي.

هلته خلک هک حيران پاتې وي چې د هغه جګړه - ځپلي مُلک له ايرو څخه دا ډول ځلا داره سکروټې الوزي! خپلې سکروټې وهڅوئ او آفرين ورکړئ، ای ايره شويو خلکو!

ترجمه Serajulhaq Qanit :